مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۹/۰۹

# نظم

متلونه سر چپه شول؛ دلته پوهه رنا نه ده!
تا ته چا ویل چي شوګیر شه ؛ دلته جهل بلا نه ده!

دا جنت دی تېکه شوی؛ ځانته بل صراط پیدا کړه!
بیا له سره ساه پیدا کړه؛ بیا یو بل حیات پیدا کړه!

د اسلام تاریخ پیدا کړه؛ پاک تريِ أُم المسلمین کړه!
په یوه رسۍ په دار بیا؛ تول اناث متعلمین کړه!

تذکره د اولیاء کي؛ رابعه او الایي دي
دېته هم کړه تیلی ورته؛ دا کوم.چا کښلي چتي دي

په چاړهٔ یي کړه حلاله؛ که نازو ده که ملاله!
ښځه تش د شیطان جال دی؛ په ذلت یې شه خوشاله!

خوله د ورور په وینو سره کړه؛ په جاهله غږی لک شه!
بیا پخپل جهالت کلک شه؛ او جنت دي مبارک شه!

باور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ